

بېلتون
دې دومره دردولی
یم
چې دوه مېین هم
چېرته خپه
ووینم ورته ژاړم
ادبي ټوټې
لیکوال: نصیب نیازی
بېلتون
ادبي ټوټې
کال: ۱۴۰۰
لیکوال: نصیب نیازی

# بپلتون

(لنډې ادبي ټوټې)

ليکوال : نصيب نيازى

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: بېلتون

لیکوال: نصیب نیازی

د متن اېډېټ: امان الله عابد

ډیزاین : شرافت نیازی

کمپوز: نصیب نیازی

فیسبوک پاڼه: Naseeb Niazai

کال: ۱۴۰۰ المریز

# ډالۍ

په نړۍ کې

تر ټولو زورېدلې او کړېدلې

مـيـن ته!

۱

**خدایه !!**

**ځکه دې شکر ادا کوم**

**او د تعظیم سر درته ښکته کوم**

**چې مسلمان او د وروستي**

**پیغمبر امتي دې پیدا کړی یم.**

۲

**اعتبار**

**د یوې ښې اړیکې**

**اساسي برخه ده.**

۳

پـه نـړۍ کـــې

تـر ټـولـو غـوره او سـتـایـنـوړ

کـار د دوو مـیـیـنـانـو

یـو ځـای کـول دي.

۴

نـصـیـب مـې

ډ ېـــر بــدمـرغـه و

هـغـه مــې خـــوخـــه وه،

خـو قـسـمـت کې مې نه وه

۵

سـتـا

راتــګ هـم لـکـه

پـسرلـی ډېـر ښـکـلـی و

خـو تـګ دې بـيـا لـکـه

خزان ډېـر ژېړ او غـمـجـن و.

۶

پــوهېږې؟!

سـتـا لـه تـګ وروسـتـه

هـره ورځ د سـمـنـدر غـاړې تـه ځـم

سـتـا يـادونـه د کـاغذ پر مـخ ليکم

او د اوبـو پـر پاکو څـپـو يې

سـپـــارم.

۷

تـه ځـومـره ښـایـسـته یـې

سـتـا ښـایـسـت

سـره د نـړۍ ښـایـسـتـه

کـایـنـات تـشـبـیه کـیـده.

۸

تـصـویر دې

زمـا پـه رګـونـو کـې

لـه ویـنـې سـره یـو ځـای روان دی.

۹

انـتـظـار دې

دومـره سـتړی کړم

اخـېـر مـې د سـترګـو ګـاڼـي

پـر ځـمـکـه ولـېـدل....

۱۰

سـتـا تـصـويـر مـې

د زړه پر دېـوال رسـم کړی

جـدايـي دې ورو – ورو

سـتـا انـځور ورانـوي.

۱۱

کوم الفاظ

چې ستا

په نه شتون ستا

لپاره لیکم

له هر توري یې

درد څاڅي.

۱۲

ستا

په یاد کې

هره شپه لپې لپې

اوښکې تویوم.

۱۳

ستا

له یادونو او دردونو

خلاصون یوازې مرګ

کې وینم.

هغه هم نه راځي.

۱۴

تر ټولو نږدې

ملګرې مې

قلم دی

خپل درد ورته وایم

او هغه یې په پټه خوله لیکي.

۱۵

لـه زړه مـې

بـل لـوی قـبـرسـتـان نـشـتـه

هـلـتـه هـره ورځ يـو احـسـاس مـري

او يـوه هـيـلـه ژونـدی کـبـږي.

۱۶

يـوازې

تـه مـې د زړه پـه سـتـرګـو

ولـيـدلـې

خـو قـسـمـت کـې مـې نـه وې.

۱۷

ستـا

نـيمـګړې مـينـې داسـې رسـوا کړم

چې اوس د هر چـا خـبـرې

پـه زړه وړم.

۱۸

پـوهـېږې؟!

زړه مـې

پـرتـه لـه تـا څـريـکـې او درد

کـوي

هيلـه کـوم راشـه!!

۱۹

سـتـرګـې

دې لـکـه د سـمـنـدر

مـسـتـې څـپـې

د ژونـد پـه ګـردابـونـو یـې

ښـکـتـه او پـورتـه کـړم.

۲۰

تـه مـې

د بـدن پـه رګـونـو کـې

یـې ....

کـه ووتـلـې؟!

مـرم ..........

۲۱

پــه ویښـه

دې د وصـال

هیـلـې مـــړې دي ....

نـن شپـه خـوب کـې راشـه !!

مــــــرم..

ښـه نـه یـم .........

۲۲

ښـایـست

دې دومـره جـداب و

چـې پـه لـومړي وار

کـتـو دې

پـر ځـان مـیـن کړم.

۲۳

زړه مې

درپسې خپه دی

راوګرځه !!

د زړه ازار مې مه اخله!!!

۲۴

زما

او ستا ترمنځ

تر ټولو ستره ناځواني

قسمت وکړه ...

چې یو ځای یې نه کړو.

**۲۵**

**خدایه !!!**

**شکایت یې مه ګڼه**

**له ژونده ستړی شوی یم**

**په تلپاتې خوب مې ویده کړه !**

۲۶

**ستا**

**د راتلو هیله مې**

**په زړه کې دفن کړه**

**( انا الله وانا الله راجعون)**

۲۷

درد

چې لـه حده زیـاد شـي

زړه مـاتـوي

او ورو ــ ورو

د انـسـان ژونـد ته دې پـای ټـکـی ږدي.

۲۸

پـه زړه کـې مـې

سـتـا د یـادونـو لـوی

قـبـرسـتـان دی .

۲۹

زه !

میلونونه انسانان څه کوم؟!

ته راشه!!

بس په زړه یو جان ځاپیږي

نه ټوله نړۍ.

۳۰

وجود مې

خاموشه دی

یوازې

ستا خبرو په کې شور جوړ کړی.

۳۱

بېلتــون

دې هم لـکـه سرطـان مـرض

نــه مې وژنــي

نــه مې ژونـد تــه پرېږدي.

۳۲

مــرګه راشـــه

د بېلـتـون لـه درده خـو

بـــه خـوږ يې.

۳۳

ستړګې

مې هم لکه د نړۍ

یو غټ سمندر

چې څومره هم درپسې وژاړم

نه وچېږي ـ نه درېږي.

۳۴

تر ټولو نژدې

ملګرې مې قلم دی

چې خپل درد ورته ووایم

هغه یې په پټه خوله لیکي.

۳۵

د نړۍ

تر ټولو لوی جنایت

د یو چا په مینې میـینېدل دي.

۳۶

اوښـکـې

چې بـېـواکـه

لـه سـتـرګـو روانـې شـي

یـو سـلـنـه تـروې اوبــه وي

او پـاتـې ۹۹ سـلـنـه هـغـه درد دی

چې لـه زړه څـخـه د سـتـرګـو پـه وسیلـه څـاڅـي.

۳۷

گرانښت

چې له معیاره پورته شي

په درد اوړي کرکه ترې جوړېږي

بلاخره یوه خوږه اړیکه

له منځه وړي.

۳۸

ارزښت

یې که درته له صفر

سره ضرب کړ

ته ورته لیرې والی له

صفر سره جمع کړه.

۳۹

ای

تاته وايم؟!

په مخې مې نوره رانه شې!

د زړه زخمونه مې

سره ورغلي

ته ناليدلې بڼه يې.

۴۰

نور دې

د راتلو انتظار نه کوم

ځکه

زه اوس مکمل مات شوی

يم.

۴۱

**ببېلـتـون**

**دې دومـره دردولـی یـم**

**چـې دوه مـيـين هـم چـېـرتـه خـپـه ووينـم**

**ورتــه ژاړم.**

۴۲

**غـم**

**دې رانــه د خـوښـۍ**

**هـره شـيـبـه اخـسـتـې سـخـت درنــه**

**ګـيـلـه مـن يـم.**

۴۳

زړه مې

درپسې خپه دی

را وګرځه د زړه ازارمې مه اخله!

۴۴

درد

او خپګان تل پاتې نه وي

د باران څاڅکي چې پر ځمکه

ولېږي ضرور وچېږي.

۴۵

د ښـار پـه واټـونـو کـې

هـر دوه نـفـرو

یـو بـل لـه لاسه نـیـولـي وو

زه پـه سلـګو کـې ستـا لـه خـیالاتـو سـره روان وم.

۴۶

درده

نـن چـېـرتـه

چکر لاړ شه!!

زه بـه لـېږ ارام وکـړم.

۴۷

نن مې

پر دفن شویو

ارمانونو د ناهیلۍ شمعې بلې کړې.

۴۸

زه

په هغه وخت

له تا ځخه ستره خدای پاماني وکړم

کله چې مې مرګ په خپل کور کې تلپاتې

میلمه کړي.

۴۹

هـغـه شپـه

هـم نـژدې ده

چـې ستــا پــه راکـړل شـوي

درد بـه دومـره  وژاړم سهار بـه مـې

د اوښـکـو لـه دريـابـه مـړ جـسـد راوبـاسـي

او خـون بـه يـې ستـا پـه غـاړه وي.

۵۰

زه پـخـوا مـړ شـوی وم

لـه تـنـه

مــې د مـړ جـسـد بـوي ځـــي.

۵۱

زږه

هـغـه وخـت

دردېږي،چې د هيـلـو

کـېښـتـۍ دې د سـمـنـدر څـپـه ووهـي.

۵۲

ښـايـسـت بـانـدې

دومـره غـرور مـه کـوه!

پـاڼـې لومـړۍ شـنـې وي

بيا ژېـړيږي ، وچيږي او بـلاخره لـه مـنـځه ځـي.

۵۳

پلاره

مـې چـې تـرڅـنـګ ولاړ وي

داسـې احسـاس کـوم

د نـړۍ پـر مخ قـوي شخـص زه یم.

۵۴

مـور

مـاتـه چـې سـکـون راکـوي

د هـغـې معصـومـه څـهره

او خـوږ غبږ دی چـې د نړۍ مـوسیـقي

ورپـــسـې نــه شـــي رسـیـدی.

۵۵

اخ

درد او غم دې تر دې حده

راوستلم

اوس مې خبرې هم خوږېږي.

۵۶

ستا لپاره !!

زه مې له خپل رب سره

پینځه ځله خبرې کوم او تا ترې

غـــوارم.

۵۷

**وطـنـه !!**

**دېـر وكـړېـدې،وزورېـدې**

**لـكـه تـپـي سـرتـېـرى**

**د وجـود لـه هـرې بـرخـې دې**

**ويـنـې څـاڅـي**

**نــور دې خـداى(ج) راتـه جـوړ كـړه!!**

۵۸

**تـل د انـسـان**

**لـه زړه سـره مــيـنـه وكړه!**

**نـه لـه ښـايـسـت سـره**

**ځـكـه ښـكـلا تـلـپـاتې نـه وي.**

۵۹

درده!!

سپـین ستـرګیه!

نـور مـې پـه قـرار پرېږده!

دنـیـاه کـې نـور څـوک هـم شـتـه که تنها

زه یـــــم.

۶۰

ژونـد کـې

څلـور کـارونـه د ځـان عـادت وګـرځـوه!

۱ زړه وګټـــــه!

۲ زړه مه ماتوه!

۳مـــینـه وکـــړه!

۴ دوکه مه ورکوه!

۶۱

خـدايـه!!!

دا دې د مـيـنـې

پــه څـه ډول عذاب

کـې راګـيـر کـړى يـم.

درد

چې مې انتـها تـه ورسېـږي

نــارې وهـم

چې

خــــدايه!!!

خــــدايه!!!

خــــدايه!!!

۶۲

انسـانـه!!

د بـدو مـقـابـل كې

بـد مـه كـوه!

لار ورڅـخـه جـلا كـړه!

او د فـكـر څـخـه يې وبـاسه بس.

۶۳

ژونـد تـه

تسـلـيـم نـه شـې!!

كـه دې وژړوي

وبـه دې هـم خندوي

ځـكـه!

هـر عـمـل عــكـس الـعمل لري.

۶۴

نــوم دې

لــه څـلــورو تــورو جــوړ وه

هــر تــوري دې بـېلــه ـ بـېلـه سزا راکړه

درد ـ غـم ـ يـوازېـتـوب ـ بېـلـتـون

۶۵

زمــا لــه مـرګ وروســتــه!!

هـغـه کتابـچه را واخلـئ!

چې ما په کې خپل دردونه لـيکـلي

وې سوځـــوئ!

بـيـا يـې پـر ايرو

زما پـر شـنـاخـتـه داسـې ولـيـکـئ!

[په نړۍ کې تـرټولو دردېـدلـي او کړېدلي ميـين]

مـقـبـره

۶۶

اخ

درد او غم دې تر دغه حده

راوستلم

اوس مې خبرې هم خوږېږي.

۶۷

زه مين نه يم.

يوازې د نورو د دردونو

ترجماني کوم.

د يوه مات شوي ازار شوي.

او بې وسه مين انسان درد ته

د الفاظو جامې اغوندم.

۶۸

خیال کې دې

غرق تللی وم

ستا په څنګل مې سر ايښی و

شيبه لا وتلې نه وه

زړه مې څړيکه کړه

ځای پر ځای يې پرې باستلم.

۶۹

درپسې خپه يم

غږ دې راولېږه!

زه دې په خيال کې لمس کوم.

۶۸

دا مــې

وروســتۍ

او

لــومړنۍ لیکنه

ده او وه

نــور مــې د زړه زور ختم او ګــوتې

ستـــړې شــوې

د مــرګ او ژونــد پــر ژۍ ولاړ یــم.

😭💔

پــــــــای



د لیکوال پېژندنه

ښاغلی نصیب نیازی د همایون نیازي زوی د مرحوم معلم محمد قیس نیازي لمسی

په ۱۳۷۸ کال د علینګار ولسوالۍ اړوند قلعټک نیازي نومي کلي کې زیږېدلی دی.

نیازي په ۱۳۹۷هـ ش کال د شهید داکتر عبدالله لغماني په لېسه کې خپلې زده کړې په اعلی درجه بشپړې کړې دي.

او په همدې کال د کانکور ازموینه کې ګډون نوم لیکنه وکړه،چې د لغمان پوهنتون ادبیات او بشري علومو پوهځي

پښتو ژبې او ادب څانګې ته بریالی شو.

اوس مهال د دریېم ټولګي زده کړیال دی.

ښاغلی نیازی له لیکوالۍ سره بې کچې مینه لري،د کایناتو خالق دې وکړي چې په راتلونکي کې له نوموړي څخه

یو ښه لیکوال جوړ شي.

درنښت

څارنوال احمد ضیاء افشان